سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۴ / ۱۲ / ۲۴

د سپینکي ماما سپیني او غوړي خبرې!

وايي کوم ناروغ د نس خوږي د درملنې لپاره یوناني ډاکټر ته ولاړ. ډاکټر ورته له کتنې روسته د جمال کوټې (یو ډول دوايي توکی دی) څو پوړۍ ورکړې. ناروغ چې کله د دوا یوه پوړۍ وخوړه، سملاسی یې په نس ناستو پیل وکړ او له څو نس ناستو روسته یې، سا ورکړه. یوناني ډاکټر چې کله د خپل ناروغ له مرګه خبرشو، بې له دې چې د ناروغ د مرګ په اړه فکر وکړی د خپلې پوهې او درملنې ستاینه کوي او وايي چې که ناروغ مړ شوی نه وای، نو زما په توصیه شوې دوا کې، د څلویښتو نورو نس ناستو توان هم موجود وو، خو له بده مرغه چې ناروغ مخکې له هغې مړ شو!

نن مې د BBC پښتو بریښناپاڼه کې د پخواني ولسمشر حامدکرزي د مخکیني ویاند ښاغلي ایمل فیضي یوه خپره شوې لیکنه ولوسته. دا لیکنه کېدای شي ځینې کسانو ته په زړه پورې وي چې زه یې هم هغو ته د لوستلو سپارښت کوم، خو زما پشان ښايي ډېرو کسانو ته چې هغوی په تېرو ۱۳ کلونو کې د ښاغلي کرزي د خپلې خولې او یا د هغه د بېلا بېلو ویاندانو خبرې او ژمنې اورېدلې او زه یې دلته د سپینکي ماما د سپینو او غوړو خبرو په نوم بولم، دومره نوې او منلې نه وي!

ایمل فیضي خپله لیکنه کې د ځینو نورو چارو تر څنګ دوه مهمو خبرو ته اشاره کوي. لومړی دا چې کرزي امریکا سره د بې شرطه امنیتي سند د لاسلیک جدي مخالفت وکړ او دوهمه دا چې ولې ملاعمر د امریکا هدف نه دی؟

که د دواړه خبرو منځپانګې او وخت ته ځیر شو، څرګندیږي چې دا دواړه خبرې نه تصادفي دي او بلخوا د وخت حساسیت ته په پام راوړاندې شوې دي.

کرزی خپله هم کله ناکله، امریکا سره د امنیتي سند د مخالفت خبره شاربلې ساتي، خو زیات وخت د خپلو حوارینو په ژبه غږیږی. امنیتي سند چې امریکا سره د ستراتیژیک تړون یوه برخه ده او داسې تړون د کرزي لخوا لاسلیک شوی، خوکرزي او حوارین یې اوس هیڅکله په مخالفت غږ نه اوچتوي. که نورې چارې پرېږدو او یوازې د دې سند شالید راواخلو، له ورایه څرګندیږي چې کرزی غواړي د خپلو دوستانو په ژبه د ولسمشر اشرف غني د واکمنۍ په وړاندې چې امنیتي سند د ده په خوښه او لارښوونه او د ده په وخت کې لاسلیک شوی، د هغه په اړه د افغانانو په ذهن کې یو بدل انځور ترسیم کړي. په داسې حال کې چې افغانان ټول پوهیږي د امریکا ، یورپ ، استرالیا او هند سره د کرزي د واکمنۍ په مهال ستراتیژیک تړونونه لاسلیک شوي دي.

کېدای شي کرزی او پلویان یې امریکا سره د امنیتي سند په اړه نور دلایل هم وتراشي او د وخت حساسیت ته په پام به یې وخت بېوخته وړاندې هم کړي، خو داسې سند چې په اړه یې ډېرې خبرې شوي او په ټوله کې افغانانو که څه هم د ښه انتخاب په توګه نه، بلکې د پخې اړتیا پټوګه منلی، د اضافه خبرو وخت تېر ښکاري!

د ډېرو افغانانو په اند امریکا سره د امنیتي سند د خبرې په تودو ساتلو سره کرزی غواړی، د خپل دیارلس کلن واک نیمګړتیاو او ختاوو ته د وړو پزه کښېږدي او تېر تاریخ ته په کتو سره د افغانانو له سپیڅلو ولولو، د ځان په ګټه او د دوی په زیان ګټه پورته کړي. بلخوا له هېواده بهر د ځینو ټاکلو کړیو د خوښۍ او رضایت لپاره هم داسې مخالفت په پام کې ساتل کیږي!

نو ځکه دلته د کرزي پلویان، سړي ته د همغه یوناني ډاکټر نسخه یادوي، که افغانان مري او که چوي، خو چې امریکا سره د امنیتي سند په اړه د دوی د مخالفت خبره توده وساتل شي!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدارنګه ښاغلی فیضي د خپلي لیکني بله برخه کي وایي « ولي ملا عمر، د امریکا هدف نه دی؟» روسته نوموړی د امریکا د دفاع وزارت وینا راوړي چي هلته ویل کیږي« د ۲۰۱۵ کال د جنوری له دویمي نیټي څخه وروسته به د ملا عمر په شمول د طالبانو د تحریک غړي د امریکا د جنګ هدف نه وي او امریکایي ځواکونه به نور له ملاعمر او طالبانو سره په افغانستان کي جنګ نه کوي مګر دا چي هغوی امریکا ته مستقیم ګواښ وګرځي.

د دي خبر له لوستلو سره مي فوراً د پخواني ولسمشر، حامد کرزي وروستی رسمي سفر امریکا ته په یاد شو او کوم مذاکرات او حقایق چي هلته د طالبانو په اړه د امریکا د نوي ستراتیژی په هکله څرګند شول.

له نوموړي سفر څخه مخکي، د امریکا د بهرنیو چارو اوسنی وزیر، جان کیري کله چي د سنا د بهرنیو اړیکو د کمیټي مشر و، ولسمشر کرزي ته یي یوه ورځ په کابل کي د څو تنو محدودو افغان چارواکو په حضور کي وویل چي ملا عمر د پاکستان په کراچی ښار کي، د پاکستان د نظامیانو تر ساتنې لاندې دی.

پخواني ولسمشر، کرزي فوراً ورته وویل چي داسي ده، امریکا ولي د هغه د نیولو اقدام نه کوي؟ امریکا د هغه پر سرپه میلیونونه ډالر نقدي انعام ایښی دی، په افغانستان کي د هغه په نامه بي ګناه خلک هره ورځ وژل کیږي او د طالب په نامه دلته جګړه روانه ده خو ملا عمر ستاسو او د پاکستان د نظامیانو تر نظر لاندې په کراچی کي دی؟»

دلته هم کرزی پخپلو خبرو کي د کلي د یوه ساده سپینږیري او ملک کاکا په بڼه څرګندیږي، نه د یوه هېواد د ولسمشر او سیاستوال پټوګه!

ملاعمر، ملا عبدالرسول سیاف، ملا برهان الدین رباني، خپله حامد کرزی، طالبان، پخواني مجاهدین او نور نور ټول د امریکا او یا پنجاب لپاره هیڅکله هم هدف نه شي کېدای؛ د دوی هدف د دوی خپلي ګټي دي. دا واړه د لویدیځ، امریکا او نورو د ملي ګټو لپاره وسایل وو، وسایل دي او وسایل به یي!

دلته مي د خپل کوچنیتوب یوه قصه راياده شوه.

موږ چي کوچنیان وو او کله به مو مړزان او یا نور مرغان نیول، نو د مړزانو د نیولو لپاره به مو د یوه پنجره یي مړز پنجره د پټي په یوه کونج کي بنده کړه. پنجره یي مړز به ناري وهلي او نور مړزان به د هغه نارو ته راتلل او په دي توګه به موږ هغه نیول. داسي د نورو مرغانو د نیولو لپاره به مو هم د همغه مرغانو څېري جوړولي او کارولي.

لکه څنګه چي ښکاري د مرغانو د نیولو لپاره د مرغانو څېري ته اړتیا لري امریکا، افغانستان او سیمه کي د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره، یوه ځواک ته چي امریکا سره د دي هېواد د موخو په لاس ته راوړوکي همکاري وکړي، اړتیا درلوده او داسي اړتیا تل لېدل کیږي. دا ځواک او یا د ښکاریانو په ژبه د مرغانوڅېره، د امریکا لپاره لومړی مجاهدین او روسته طالبان وو. همدارنګه له طالبانو سربېره، په افغانستان کي دننه هم امریکا د ښکار لپاره د مرغانو څېري په شان یوه ځواک ته اړتیا لري چي دا ځواک له نورو سربېره، د نظارشورا او جمعیت په لمن کي یو شمېر لنډه غر جوړولای شي. کله چي امریکایي لوړپوړي چارواکي خپله اعتراف کوي CIA د نظارشورا بنسټګر، احمدشا مسعود ته د ډالرو کڅوړي ورکولي، د احمدشا مسعود سلفیان لکه عبدالله عبدالله به هم اوس د امریکا د ښکار لپاره د مرغانو د څېري د لوبولو دنده ترسره کوي.

په دي توګه امریکا له بهره د طالبانو او په کور دننه د نظارشورا په مټ، په ظاهر کي د دوو متضادو اړخونو خو په حقیقت کي د یوي موخي لپاره په افغانستان کي دننه، شخړه اوجګړه جوړه کړه چي د دي جګړي له لاري، افغانستان او سیمي ته لومړی د راتګ لار اواره کړي او روسته پخپل شتون سره د خپلو ستراتیژیکو موخو لپاره لاس په کار شي.

زما په اند که کرزی او یا بل څوک داسي تحلیل وړاندي کوي، درواغ نه وایي بلکي ریښتیا وایي؛ خو سیاست یوازي ساده ریښتیا ویلو ته نه شي ویل کېدای. سیاست له ملي ګټو سره تړاو لري او ښه سیاستوال هغه دی چي په همداسي چاپېریال کي د هېواد او ملت ملي او سراسری ګټي خوندي کړای شي. په ټولیزه توګه پخوا مجاهدین،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

روسته طالب او سبا به بل څوک، امریکا د خپلو ګټو لپاره کاروي، خو دا د افغان سیاستوال دنده ده چې په داسې غوبل کې هم خپلې ملي ګټې په ښه توګه او لږو تلفاتو ترلاسه کړي.

اوس د کرزي او د هغه د چلغاړو پلویانو څرګندوني چې د کلي سپینکي ماما خبرو ته ورته پاتې کیږي او د ولس په ګټه سیاسي منځپانګه نلري، د کومې ناروغۍ درمل دي؟

کله چې له شته دوست او همکار څخه ښه او بل منلی بدیل نلري، شته دوست او همکار ته، هغه هم د ولس د ګټو په بیه، شا اړول او له هغه ګټه نه پورته کول کوم سیاست دی؟

د ولسمشر اشرف غني د ملي دریځ او تګلارو په وړاندې به نورې بلاګانې هم سوکه سوکه د مخالفتونه سر راښکاره کړي او د ملي ګټو او دریځونو په نوم به یو څه وخت ډګر تود کړي، خو په پای کې له افغان ولس څخه خپله شیطاني څېره او بایللې تګلارې نه شي پټولای!

زما په اند ډیری داسې څرګندونې د ذهنتونو د انجړولولو لپاره کاریږي!

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ